(تبصره)

# او کاروان روان شو

(ناول)

نعيم هاتي خېل

د بانديني عنوان لاندي اوس اوس چاپ شوے (جون **2008**) د محب وزير ناول، خپله بشپړه شهره خو هله ښيي، کله چې ئې ويونکے ولولي خو په اوړو کښې د مالګې برابر ئې زهٔ هم د دې ليک په واسطه ويونکيو ته ښودل غواړم.

ښاغلے ليکوال ډېر په استاذئ سره د رومانس په رسئ لړلے د پښتنو د نوي کُول د قام پرستي مفکورې په ځانګړې توګه استاذيتوب کړے دے. کهٔ څهٔ هم د تخليق د رنګ او بې طرفه ساتلو د پاره ځائے په ځائے پخوانيو قام پرستو ته ګوت نيونه شوې ده خو په مجموعي توګه د پښتنو د ټولو مشرانو درناوے پکښې شوے دے او دا د ښاغلي ليکوال يو امتياز دے، ګني نو اکثر ليکوال د خپل تخليق د عام اولس د خوښې د جوړولو د پاره بيا په خپلو اسلافو بې ځايه تنقيدونه شروع کړي خو ښاغلي محب وزير د داسې حرکت نه ځان ساتلے دے.




حقيقت دا دے چې د تېرو لسو کالو راسې چې د پښتنو په قامي سياست کومې جګې ټيټې تېرې شوې، زما مقصد د هغه وخت څخه دے چې پښتنو د ولي خان بابا په مشرئ کښې په شمول د آفتاب شېرپاؤ او محمود خان اڅکزي او داسې نورو ډېرو درنو مشرانو د اټک درياب په غاړه د پښتونخوا د نوم لوحه ولګوله او د مهتاب عباسي حکومت هغه لګېدلے بورډ د شپې په تيارهٔ کښې اټک درياب ته ورګوزار کړو او څهٔ موده وروستو بيا فوځ خپل هغه کار وکړو، کوم چې دوي د ډېرې مودې راسې وخت په وخت کړے دے. نو د هغه وخت نه راواخله تر دې دمه پورې زما په خيال په دې تېرو لسو کالو کښې به د ډېرو پښتنو ليکوالو په ذهنونو کښې د دا قسمه ناولونو يا نور څهٔ ليکلو خواهش پېدا شوے وي، دغې لسيزې د ډېرو ليکوالو په ذهنونو خپل نقشونه ضرور پرېښي دي. ځينو شاعرانو به د نظم په کالبوت کښې د خپلو احساساتو د اظهار هڅې کړې وي، خو محب وزير ډېر بختور دے چې د ناول په شکل کښې ئې خپل مافي الضمير ډېر په ښکلي انداز ښودلے دے او د ګړدې نړۍ د پښتنو د نوي کُول خوارهٔ وارهٔ خوبونه ئې پېښور ته راټول کړي دي او د زړو قربانيو په رڼا کښې ئې د نوي مزل کولو مخه ورکړې ده.

زهٔ کهٔ دا خبره ډېره پټه کړم خو بيا هم رانه جوتېږي چې د شمالي ضلعو خلق يعني مقصد دا چې وزير په سندرو يا غزلو وغېره نهٔ پوهېږي بلکې وزير خو صرف د پګړۍ او ټوپک کمر بند نوم دے. خو محب وزير د دې ناول په تخليق سره ثابته کړه چې وزير قام تش د ټوپک

کمر بند نوم نۀ بلکې د زمانې هره نمونه نزاکتونه پېژني او د لاربښودنې هڅې ئې هم کوي. زۀ په محب وزیر په ځائې فخر کوم چې پښتو ادب کښې ئې د "اوکاروان روان شو" په شکل یوه نوې اضافه وکړه.

په دې ناول کښې یوه خبره چې زما په خیال د ټولو ګیلو ځواب پکښې نغښتې دے هغه دا چې "امن به هله راځي چې د پښتنو خاوره د روزګار په خوړو او بو خړوبه شي" زۀ فکر کوم چې نن د پښتون خاوره د کوم اخ و ډب سره مخ ده، په دې کښې بنیادي لاس د روزګار د نشتوالي یعنې د غربت دے، کوم چې د محب وزیر نه هېر شوے نۀ دے.

حقیقت دا دے چې زۀ ناول یا افسانه داسې ډېر په مینه نۀ لولم، ځکه چې زما په خیال د کوم شي چې بنیاد تش په خیال یا په نورو ټکیو کښې په دروغو اېښے وي او لوستونکي ته معلومه وي چې زۀ چې څۀ لولم په حقیقت کښې داسې نۀ ده نو د هغې به څۀ اثر وي؟ خو هغه د چا خبره چې وائي دروغ ووایه خو داسې چې د رښتیاؤ ګمان پرې وشي نو بد نۀ لګي.

محب وزیر چې ځائې په ځائې په دې ناول کښې کومه منظر کشي کړې ده په هغې رښتیا هم چې د سړي د رښتیاؤ ګمان کېږي.

زۀ یو ځل بیا محب وزیر صاحب ته د دې ناول په تخلیق مبارکي وایم، کۀ څۀ هم محب د ټولو پښتنو شریکه سرمایه ده، دے د یوې قبیلې پورې محدود دول به د دۀ سره هم او د پښتنو سره هم زیاتے وي. خو دومره ضرور وایم چې په ادبي دنیا کښې به د وزیرو د قبیلې رنګ په داسې بچیانو همېشه همېشه ښکلے وي. لوئے څښتن تعالی دې دوي ته د نورو ښو لیکنو توفیق ورکړي. آمین

(د محب وزیر دا شاهکار ناول چغرزی پبلي کېشنز لي مارکېټ کراچی چاپ کړے او خور کړے دے. د دې نه علاوه د حمزه بُک ډپو چوک بازار بنو سره هم د سلو روپو په مناسب قیمت ترلاسه کېدے شي.)

شاه ذوالله اسیر

خنډ و خار ته مۀ ګوره خپل یون ته چې کچه نۀ شم
څه ورځه زړګیه ستا تړون ته چې کچه نۀ شم

پربـــږده اې ګرېوانه تـــر لمنــې چــې دې وشـــلوي
بیا به دې راغونډ کړم خو جنون ته چې کچه نۀ شم

زړۀ دې زما وچوي خو په سترګو درته سوال کوم
اوښکې پټې وساتۀ ببلتون ته چې کچه نۀ شم

اې غربته زهر وڅښه مړ شه دا مې خوښه ده
سوال راباندې مۀ کوه قارون ته چې کچه نۀ شم

مۀ ورځه په کوزو سترګو سوال ترې د ژوند مۀ کوه
مرګ ته کچه ښۀ یم خو ژوندون ته چې کچه نۀ شم

جوش د انتقامه حوصله شۀ د اسیر زړۀ مې
هسې نه آ خپل لوظ پښتون ته چې کچه نۀ شم